# د ادبیاتو او ارواپوهنې اړیکې

# Relations Between Literature and Psychology

Said Asghar Hashimi [1]

In common sense, all aspects of knowledge and particularly, Social subjects have a remarkable approach. Individually, study and researches in the field of literature postpones the literary works. Human is a social being and has the non-separable relations with society, Environment, politics, customs, economics and many other factors. Therefore, a researcher is obligated to study other aspects of knowledge in order to prove his hypothesis. Among general studies, psychology takes the priority. Because, psychology is all about the human and his manners and literature is the reflection of human thoughts and feelings. The article indicates the above point that how literature is relevant to the psychology and psychology is important to literary studies.

پوښتنه دا ده چې ایا علم النفس د ادبي اثارو په څېړلو کښې ونډه لري؟ او کوم عوامل او عناصر په بشپړه اندازه د ادبیاتو او علم النفس ترمېنځ همغږي ایجادوي چې وکولے شي یو د بل پر ځائے دا عناصر وکاروي؟ ډېر مهم عامل ئې فرائډ په دې جمله کښې لنډ کړ چې وائي: « ناخودا ګاه له یوې ژبې نه په زیاتو ژبو خبرې کوي.» د فرائډ له نظره ناخود اګاه په پټه توګه د هنري او ادبي هستونو او یا تخلیق کښې دحالت لري، خو څرنګه چې روانکاوي د ناخود اګاه د علم، پوهې او مطالعې په توګه معرفي کوي، نو ځانته اجازه ورکوي چې په هغو ټولو زمینو کښې چې لرې او یا نږدې وي له ناخود اګاه سره دمیکانیزمونو او هستونو سره رابطه پېدا کوي نو څېړنه ئې کوي. په ادبیاتو کښې د علم النفس د کارولو له لارې کېدے شي، په متن کښې د ناخود اګاه د غوښتنو د ظهور څېړنه او بررسي تر سره شي. له پورته مقدماتو نه دې پایلې ته نږدې کېږو چې ادبیات د انسان د ځو او ذهني فعالیتونو ثمره ده. له دې امله ده چې د انسان له روان، شعور او ناخود اګاه سره اړیکه لري.

سائیکالوژي له ډېرو علومو سره اړیکې لري، ځکه چې علم النفس د انسان له ډېرو ګړو وړو څخه بحث کوي او انسان اجتماعي موجود او په ټولنه کښې ژوند کوي، نو له همدې امله د علم النفس

1 Lecturer Konar Pohantoon Afghanistan

تاثیرات په نورو علومو کښې شته.علم النفس له طب سره هم رابطه لري، انسانان له ډېرې پخوا زمانې څخه له خوبونو، عادتونو، خفګانونو، خوشحالیو او نورو اروائي ځانګړنو په حقله فکر کاوۀ. په یوناني ادبیاتو کښې ټول علوم په مجموعي ډول مطالعه کېدل او په هغه وخت کښې سائیکالوژي د فلسفې د یوې ځانګې په ډول تر بحث لاندې نیول کېده، خو د وخت په تېریدلو سره ارواپوهنه په نړۍ کښې د یو جلا علم په توګه ښکاره شو.سائیکالوژي په یوناني ادبیاتو کښې پخوانے تاریخي پس منظر درلود. د یورپیډیز په اثارو او ډرامو کښې د اروپوهنې څرکونه لیدل کېږي او همدارنګه د کالیداس په ډرامو کښې هم دا ځانګړنه شته.علم النفس له ادبي څېړنو سره هم اړیکې لري او د یو پیاوړي محقق له پاره اړینه ده چې د خپل مسلک سره سره سائیکالوژي او داسې نورو علومو مطالعه ولري.

څېړنه د علم النفس او ټولن پوهنې سره مستقیمه اړیکه لري. هغه څېړنه چې د اجتماعي علومو په برخه کښې کېږي، په خاص ډول د سائیکالوژي سره ځانګړې رابطې کښې ئې شک او تردید نشته. زیګموند فرائډ په دې برخه کښې ستر ګام اوچت کړ، له هغه وروسته د فرائډ شاګرد کارل ګوستاویونګ ټولنیز ناخود اګاه په کشف او اساطیرو ته په ځانګړې پاملرنې سره په ادبیاتو کښې نوې لاس ته راوړنې درلودې.

د (پښتو او دري) په کلاسیکو ادبیاتو کښې علم النفس، فلسفه، طب، تاریخ، جغرافیه او داسې نورو علوم یو له بله سره علمي تړاو لري. د فارسي ادبیاتو په شاعرانو او لیکوالو کښې سنائي غزنوي، شیخ فریدالدین عطار، مولانا جلال الدین محمد بلخي، خیام او داسې نورو په ادبي او علمي وېناوو کښې په ټولنیز ډول د ډېرو علومو سره او په ځانګړي ډول د علم النفس سره ئې رابطه لیدل کېږي او همدارنګه په دویمې دورې کښې خوشحال خټک، اشرف خان هجري، رحمان بابا، عبدالحمید مومند او داسې نورو شاعرانو په شعرونو کښې سائیکالوژیکي خبرې شته. په دریمه دوره کښې د ګل پاچا الفت، خادم، بېنوا او داسې نورو پوهانو په تخلیقاتو کښې داسې خبرې شته چې د علم النفس په دائره کښې راتلے شي.

که چېرې یو ادیبوه د خوشحال خان خټک په فکر او نظریاتو د دۀ په تخلیقاتو کښې بحث پیل کوي، نو څېړونکے مجبور دے چې د دۀ د وخت محیطي تاثیرات، کورنے ژوند، د کورنۍ موقف، پرخوشحال راغلې ستونزې او د دۀ کورنۍ شخړې د سائیکالوژۍ په رڼا کښې بحثونو ته ضرورت لري،

همدارنګه ګل پاچا الفت د وېښو ځلمیانو د غورځنګ فعال او کلیدي غړے وۀ، د وېښو زلمیانو د غورځنګ اهداف د دۀ په شعرونو او نثرونو کښې له ورایه څرګندېږي، د الفت په شعرونو او نثرونو کښې په مستقیم او غېر مستقیم ډول د وېښ ځلمیانو اهداف ښکاري. د الفت سیاسي فکر په شعرونو او نثرونو کښې په دې دلالت کوي، چې سیاسي محیط په دۀ تاثیر کړے او د دۀ د سیاسي شعرونو د څېړنې له پاره محقق مجبور دے چې د دۀ د وخت د محیط سیاسي حالات مطالعه کړي.(۱)

په ټولنیزو علومو کښې له څېړنې سره د ارواپوهنې رابطه ډېره ده.

محمد صدیق روهي، څېړنې لارښود کښې وائي:

> اکثره علومو د نورو پوهنو سره اړیکې لري او نه شي کېدے چې په مجرده توګه وڅېړل شي. د مثال په توګه د یو شعر د تحلیل او تفسیر له پاره باید د شاعر سائیکلوژیکي، تاریخي، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي چاپېریال او داسې نور عوامل هم په نظر کښې ونیسو او وګورو چې دغه شعر د ادب په تاریخ کښې څۀ مقام لري. (۲)

د پښتو ژبې د هر شاعر د شعر د تحلیل او تفسیر له پاره ئې سائیکالوژیکي ځانګړنې اساسي اصل جوړوي او دلته دے، چې ادبي څېړنې له علم النفس سره نژدې رابطه لري.

د پښتو ژبې منظومو او منثورو لیکنو کښې په ارادي او غېر ارادي ډول د سائیکالوژۍ څرکونه لیدل کېږي. په ارادي ډول هغو کسانو تحقیقاتو او تخلیقاتو کښې د روانشناسۍ برخې لیدل کېږي چې په خپل وخت کښې ئې د ځانګړي علم مطالعه درلوده او یا ئې زده کړې او تخصص په همدې برخه کښې کړې وې.

د ګل پاچا الفت په شعرونو او هنري ادبي ټوټو کښې سائیکالوژیکي څرکونه په دې دلالت کوي چې د علم النفس مطالعه ئې درلوده. د پوهاند بهاوالدین مجروح په ځانځاني ښامار کښې د علم النفس د علم تاثیرات زیات دي. استاد په فلسفه کښې زده کړه کړې وې، نو له همدې امله ئې په ځانځاني ښامار اثر کښې تاثیرات شته.همدارنګه محمد صدیق روهي، محمد اکبر کرګر، اسد اسمائي، کبیر ستورے، عبدالغفور لیوال او داسې نورو معاصر لیکوالو په لیکنو کښې د علم النفس برخه شته.

ځینې داسې لیکوال هم لرو چې د دوي په وېناو کښې د علم النفس د علم سره اړیکې په غېر ارادي ډول لیدل کېږي، د دوي په وېناوو کښې داسې نظریات لیدل کېږي چې له دوي څخه په سلګونو کلونو وروسته اثبات ته رسیدلي دي، نو دا په دې دلالت کوي چې علم النفس د انساني سلوک، عواطف، احساسات، جذبات او په خاص ډول د انسان له ټولو داخلي کړو وړو سره رابطه لري، نو له همدې امله د روزمره ژوند او په ژوند کښې د لاربښوونې له پاره اکثره وخت انسان مخاطب شوے دے او هغه وېناوې هم د علم النفس سره رابطه درلودے شي.

د پښتو ژبې اکثرو کلاسیکو لیکوالو په وېناوو کښې سائیکالوژیکي څرکونه لیدل کېږي چې د مثال په ډول د خوشحال خان او ګل پاچا الفت په لیکنو کښې ئې یادونه کوو. خوشحال بابا څو اړخیز شخصیت دے، د دهٔ په شعرونو او ساده نثرونو کښې د روانشنائ په حقله ځینې خبرې شته.محمد صدیق روهي د خوشحال بابا د ښوونې او روزنې فلسفه مقاله کښې په دې حقله ځینې خبرې لري او وائي: خوشحال خان خټک په دستارنامه کښې وائي، د ماشوم مغز په لومړیو مرحلوکښې سپین وي او اکثره خبرې د ډېر وخت له پاره له ځان سره ساتلے شي.

د نړۍ مشهور فلسفي او سائیکالوجسټ جان لاک وائي چې د ماشوم مغز د سپینې لوحې په شان دے. یعنې هر څهٔ په اسانۍ سره ساتلے شي او خوشحال بابا همدا نظر په خپل ساده نثر دستارنامه کښې وړاندې کړے دے.(۳)

خوشحال په دستارنامه او طب نامه کښې میندو ته لاربښوونه کوي چې د بارداری په وخت کښې په ځان پاملرنه وکړي او همدا خبرې نن سائیکالوجسټان کوي چې دا په دې دلالت کوي چې خان بابا به د علم النفس مطالعه درلوده.خوشحال په دستارنامه کښې د ماشوم په مادي او معنوي تشویق د کار خبرې لري چې نن سائیکالوجسټان ئې اثبات ته رسوي چې متعلم، محصل، ځوان او ماشوم مادي او معنوي هڅونې او تشویق ته ضرورت لري، که مادي تشویق ته مو وسه نه وي معنوي تشویق خو کولے شو.خوشحال خان خټک د اولاد روزنې ته د زوجیت له ټاکنې سره سم د پاملرنې لاربښوونه کوي او په دې نظر دے چې د ماشوم تربیه له هماغه ورځې پیل کېږي چې نطفه تشکیلېږي. سائیکالوجسټان په دې نظر دي چې د ماشوم په کړو وړو تاثیرات له لومړۍ ورځې پیلېږي او د پلاسنټا(کولمې) له لارې د مور و پلار له خوا د ماشوم ښوونیز او روزنیز تکامل صورت نیسي. کله

چې سپرم او تخمه مېنځ ته راځي، له دوارو سره خپل غذائي مواد وي او کله چې القاح صورت ونيسي، نو له رحم څخه په پرلپسې ډول تغذيه کېږي، کله چې په رحم کښې د انسان د جسم لومړنی پړاو پيل شي او درېيو مياشتو ته ورسېږي، نو له مور سره ئې اړيکه قائمېږي او د پلاسنټا(د مور او ماشوم تر مېنځ د غذا ورکولو) له لارې ورته غذائي مواد راځي، تر هغه چې ولادت صورت ونيسي، د خوشحال خبرې د سائيکالوژي، طب او قران کريم سره اړيکې لري.(۴)

يو عالم ته چا وويل: د اولاد تربيت مې د پيدائښت له لومړۍ ورځې پيل کړ. عالم وويل: اوس دې هم د اولاد په تربيت کښې له ځنډه کار اخېستی دے او څهٔ کم يو کال وروسته دې د خپل اولاد روزنې ته پام شوے، د اولاد تربيه له هغې ورځې پيلېږي چې کله د ماشوم نطفه وتاکل شي، يعنې د مور په رحم کښې د نارينه د سپرم او ښځې د اووم د تشکيل د لومړۍ ورځې دغه تربيتي او روزنيزه دوره پيلېږي.

د رنسانس له دورې مخکښې د يوناني فلاسفه وو( افلاطون، ارسطو، سقراط، بقراط او داسې نورو) خبرې په پټو سترګو او نه فکر کولو منل کېدے، ارسطو داسې نظر درلود، چې د ښځو غاښونه د سړو تر غاښونو کم دي، که څهٔ هم دهٔ دوه وار وادهٔ کړے وهٔ، مګر دهٔ هېڅ کله زيار ونهٔ ايسته چې دغه دعوٰی د خپلو ښځو د غاښونو په ګڼلو ثابت کړي.همدارنګه ارسطو عقيده درلوده چې غبي کسان دې وډبول شي، ځينو نورو يونانيانو داسې نظر درلود چې زده کړه او وهل سره ملګري دي چې ورته نظر د پښتو ژبې شاعر حميد مومند ئې هم لري او وائي:

نازولے زوے نه اخلي ادب
او د سيوري نخل نه نيسي رطب

مه نيو مه شه هغه زوے دې په خوا پورې
چې ئې نه ئې نيولے درس وي نه مکتب

په زړه مهر په خوله قهر زوی ته بويه
څهٔ ښهٔ وائي چيرته ډب هلته ادب (۵)

د یونانیانو او حمید مومند خبره نن سائیکالوجستان ردوي او داسې نظر لري چې ماشوم باید ونۀ وهل شي او د دوي وهل په اینده کښې بد خلک ټولنې ته وړاندې کوي، خو خوشحال د دوي د نظر برعکس د ماشوم او ځوان تشویق ته پاملرنه کوي او د وهلو طرفدار نه دے.له خوشحال سربېره د ګل پاچا الفت په شعرونو کښې هم داسې خبرې شته چې د پښتو ادبیاتو اړیکې له علم النفس سره تر بحث لاندې نیسي.د ګل پاچا الفت د شعرونو سربېره چې سائیکالوژیکي نظریات لري، په تحقیقي نثري اثارو کښې هم ځینې داسې نظریات شته چې پېداګوګانو هم دغه فکر او نظریات درلود. ګل پاچا الفت د ادب تیورۍ په برخه کښې لومړنی اثر ادبي بحثونه دي، چې الفت صاحب په کښې د شعر د ښکلا په باب وائي: «تاسې له شعر او شاعرنه علمي حقایق مه غواړئ، د شعرهدف حقیقت نه دے، جمال دے.»(۶)

ادبي څېړنې کښې د ښکلا پېژندنې په باب د نامتو پېداګوګ(کانټ) نظریات او افکار داسې راوړي: (انسان په غریزه توګه له ښکلا سره مینه لري، دغه ښکلا د رنګ، اواز او حرکت په توګه په مختلفو هنرونو کښې ځان څرګندوي او ښکلا د ټولو هنرونو ګډ خصوصیت دے.«کانټ» ورپسې وائي، چې ښکلا او ګټه بېلا بېل شیان دي، دا شرط نه ده، چې ښکلي شیان دې هرو مرو ګټور وي، د مثال په توګه د کرم ګل د ګلاب د ګل نه ګټور دے، ځکه چې خوړل کېږي، خو هېڅکله شاعر تر اوسه ښائي په دې نه وي بریالی شوے، چې د کرم ګل وستائي، یا مثلا د یوې ښکلې ښځې سره څوک په دې خاطر وادۀ نه کوي، چې له مېړه سره به د پټي په کرلو او ریبلوکې د بدرنګه ښځې په نسبت زیاته مرسته کوي، په دې ترتیب «کانټ» داسې فکر کوي، چې ښکلا ځانته مستقل ارزښت لري، نو کله چې ګل پاچا الفت د شعر د ښکلا په باب وائي: تاسې له شعر او شاعر نه علمي حقایق مه غواړئ، د شعر هدف حقیقت نه دے، جمال دے.په حقیقت کښې خپله خبره د «کانټ» د ایستیتیک پر تیوري بنا کوي، دا به هم ښائي درسته وي، چې شاعران او هنرمندان حقیقت نه څرګندوي، بلکې هغوی د واقعیت تقلید کوي. د ښکلا په باب د پېداګوک «کانت» نظر او فکر ګل پاچا الفت هم لري او تائیدوي.(۷)

د الفت په شعري او نثري کلیاتو کښې سائیکالوژیکي نظرونه شته، چې د نثري کلیاتو څو بېلګې دا دي:

ښوونه او روزنه: علم النفس په ځانګړي ډول د انساني سلوک او کړو وړو نه بحث کوي او ښوونه و روزنه د انسان په سلوک نېغ په نېغه اغېز لري، نو ځکه تربیتي سائیکالوجي د مضمون په ډول سائیکالوجستان لولي، وائي:

صحرا ته لاړم یو کانی له بل سره برابر نه وۀ.

غرونو ته وختلم، ځینې جګ او ځینې ټيټ وو.

ښارونه مې وکتل ځینې کورونه لوے او ځینې واړۀ وو.

په باغونو وګرځېدم ټولې ونې په یوه مېچ نه وې.

د سیندونو کبان مې ولیدل یو له بل سره په تول کښې برابر نه ختل.

ملایان مې ولیدل د چا پګړۍ غټې او د چا وړې وې.

کتابونه مې ولټول هلته هم ډېر تفاوت موجود وۀ.

له یوۀ هېواده بل ته لاړم او له بل نه بل ته په هر ځاے کښې ټيټ و پاس او لوړې ژورې وې.

د لوے خداے کتاب مې بېرته کړ او دا مې پکښې ولوستل.

ایا پوهـ او ناپوهـ برابر دے؟ ایا د ړندۀ او بینا څۀ فرق نه شته؟ ایا د جنت او دوزخ خاوندان څۀ توپیرونه نۀ لري؟ ایا نور او ظلمت یو راز دي؟ په دې پوښتنو د غفلت له خوبه را ویښ شوم او هرې خوا ته مې په ځیر ځیر وکتل، څنګه چې د یوۀ پټي ټېپر او د یوه بوټي کدوان یو راز نه وو، د انسانانو سرونه هم غټ او واړۀ او د ټولو خولې برابرې نه وې. ......(۸)

په اسلامي اصولو کښې پوهـ او ناپوهـ سره برابر نه دي. په پرمختللې نړۍ کښې هم پوهـ او ناپوهـ سره برابر نه دے، خو ځینو ورسته پاتې هېوادونو کښې ناپوهـ او پوهـ برابر نه دے. ډېر ناپوهان بایدد پوهانو مشران وي او داسې نور...

ګل پاچا الفت په نثرونو کښې د پوهنيزو نثرونو بېلګې زښتې ډېرې دي، دے د دې ارمانجن وۀ، چې ټولنه ئې د علم پر ګانه سمبال او په ښوونيزو مسايلو عمل وشي، چې د انسان په ټولو انساني کړو وړو کښې تغير راشي.ښوونه او روزنه يو له بله لازم او ملزوم دي، خو ډېر عالمان، پوهان او تحصيل کوونکي مې وليدل، چې ښوونيزه برخه ئې پياوړې ده، خو روزنيزه برخه ئې ضعيفه ده، نن مو د ټولنې ډېر خلک ښوونه لري، خو روزنه ئې کمزورې ده، چې زما په پوهه له ښوونې روزنه ډېره مهمه ده.

استاد الفت پخپلو نثرونو کښې د ښوونې او روزنې په حاصلولو ټينګار کړے.

پر ښوونې سربېره په سائيکالوژي کښې په روزنې هم ډېر تاکيد کېږي او د ګل پاچا الفت په نثرونو کښې پر ښوونې سربيره روزنې برخه هم شته، ښوونه او روزنه د ملا او ګېډې په شان يو د بل له پاره لازم او ملزوم دي، دا هغه دوه مفاهيم دي چې د ټولنې د پرمختګ له پاره اساسي توکي دي، کله چې د ټولنې انسانان په دې دوو مسايلو پوه شي او عملي ئې کړي، نو ټولنه پرمختګ کوي او انسانانو کښې ئې مثبت تغيرات رائحي.

ګل پاچا الفت دا هيله او اميد درلود، چې ټولنه ئې په دغو دوو(ښوونې او روزنې) پر ګانه سمباله شي، دا مسايل د علم النفس يوه لويه برخه ده، په سائيکالوژي کښې تربيتي سائيکالوژي د يو مضمون په ډول لوستل کېږي، چې د الفت په نثرونو کښې دا برخه ليدل کېږي. د روزنې په اړه په نثري کلياتو کښې هم ډېر مسايل راغلي دي.

روزنه د انسان په بدني، ذهني، سلوکي، اخلاقي، ټولنيز، انساني او فرهنګي برخو کښې مثبت بدلون ته وائي، چې د ژوند په ټولو چارو کښې ترې نه ګټه پورته کېږي، د روزنې په رامنځ ته کېدو کښې ښوونه اساسي نقش لري.

قران کريم انسانانو ته هر ډول روزنيز مسايل وړاندې کوي، خو دا چې پر علم عمل نه کوو، نوځکه مو د روزنې برخه کمزورې ده. مبتکر او مفکر ليکوال ګل پاچا الفت په نثرونو کښې روزنيز نثرونه هم شته، وائي:

> که د چا صحت هر څومره ښۀ وي او په وجود تکړه وي، چې خوی ئې وران او عمل ئې بد وي، نو څۀ فايده؟ ترڅو چې زمونږ عادات او اخلاق سم نه شي او

بد ذهنیتونه را سره ملګري وي، که دا ملک جنت هم شي زمونږ بد عملونه او بد رواجونه به ئې په جهنم بدل کړي او په هغو اورونو به سوځي، چې زمونږ له نفسونو نه ئې لوخړې او لمبې پورته کړي، که موږ خپل ځانته متوجه شو او خپل کردار او رفتار په نظر کښې ونیسو زمونږ هغه ظلمونه او جهالتونه، چې د رسم او رواج او عرف او عادات نوم پرې ایښودل شوے دے، زمونږ د بدبختۍ ډېر مهم عوامل دي. ...... (۹)

که چیرې انسان ښوونه تر لاسه کړي او د دۀ په کړو وړو کښې مثبت اخلاق پیدا شي، نو د ښوونې پایله ئې دا شوه، چې په اخلاقي سلوک کښې ئې تغیر راغلی.

د انسان له بهرني رغښته دننني معنوي جوړښت په انساني اعمالو کښې بنسټیز رول لري، د انسان احساسات، اخلاق، تخیل، مفکوره او داسې نور مسایل هغه دي، چې د ښوونې په واسطه په انسان کښې مثبت تغیرات راتلے شي. فردي تفاوتونه: په اروا پوهنه کښې (فردي تفاوتونه) د ځانګړي سرلیک لاندې توضیح او تشریح کېږي، چې لوے لوے بحثونه پرې شوي دي او د یو مضمون په ډول تدریسېږي، چې زۀ د موضوع اړوند ئې په لنډ ډول وړاندې کوم.د نړۍ د ټولو انسانانو داخلي جوړښت (مینه، محبت، احساسات، جذبات، تخیلات، شخصیت، سریتوب، اخلاق او نور) او خارجي جوړښت (قد، قواره، د پوستکي رنګ، سترګې، پوزه، غوږونه او داسې نور) یو له بله توپیر لري.

په نړۍ کښې هیڅ داسې انسان به نه وي، چې له بل انسان سره په داخلي او خارجي جوړښت کښې یو شان وي.د ګل پاچا الفت په نثرونو کښې داسې بېلګې شته، چې د فردي تفاوتونو مفهوم ارایه کوي.

(ډاکتر یوسف کریمي، روانشناسي اجتماعي) کښې د انساني توپیرونو په تړاو وائي:

ژباړه: (د ځمکې پرمخ د نړۍ ټول مخلوقات، ژوندي، غېر ژوندي که هغه حیوانات وي او که نباتات وي، الله تعالی په یو ټاکلي اندازه او ښکلا سره پیدا کړي دي، د وراثت او محیط تاثیرات

دي، چې د انسانانو داخلي او خارجي جوړښت يو له بله توپير لري، د بېلګې په ډول د قد لوړوالی، وزن او ذکاوت د توپيرونو له جملې څخه ګڼل کېږي.) (۱۰)

نوي نسل تر سرليک لاندې نثري کليات يوه برخه ده: ( ...... که اولادونه ميندو غوندې وای، نو له غرونو څخه به لعلونه نه پيدا کېدل، له دريابونو څخه به مرغلرې نه راوتلې، له ابشا نه به برېښنا نه راتلل، د رندو اولادونه به رانده وو، له کښو نه به کاڼه زېږېده... ) (۱۱)

د يوه مور او پلاره پيدا کېږي، خو د ډېرو اولادونو خويونه او بهرنی رغښت به يو د بل سره توپير لري، د خپلو والدينو سره به يې ډېرې ځانګړنې بدلې وي، چې دا ټول د انساني توپيرونو تر مفهوم لاندې راځي.

د محيط اغېز: په علم النفس کښې د محيط پر تاثيراتو ډېر بحثونه شوې دي او د محيط تاثيرات د انسانانو پر ژوند نېغ په نېغه اړيکې لري.

د استاد الفت نثر دے چې د ښوونې او روزنې او همدارنګه د محيط اغېز مفهوم څرګندوي :

(چا چې د تعليم او تربيت ټکی اورېدلی او د دواړو په مفهوم او معنی کښې يې غور او دقت کړے دے هغه پوهېږي، چې تعليم بېل شے او تربيت بېل شے دے.

علم په ټوله نړۍ کښې تقريباً يو راز دے، مګر تربيت په هر ملت او هر مملکت کښې بل راز کېږي. علم په لږ وخت کښې د يو څو کتابونو په وړلو او ترجمه کولو له يوه ځايه بل ځاے ته نقل شي، مګر د تربيت عمرونه او ډېر وسايل غواړي.

د علم ښودنه د يوه ملا او معلم کار دے، مګر تربيه کول د محيط او جامعې، د مور او پلار، د کور او کورنۍ د يوه قايد او مرشد وظيفه ده.....) (۱۲)

په پايله کښې د دې خبرې يادونه اړينه ده چې ادبيات د انسان په واسطه پنځول کېږي او په ځانګړي ډول ارواپوهنه د انسان نه بحث کوي، نو ځکه د ادبياتو د تشريح او توضيح له پاره په علم النفس پوهېدل اړين دي.

## ماخذونه


۱: هاشمي،سیداصغر، د تحقیق اصول، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد ۱۳۹۵ ل کال، ۱۰۰ مخ.

۲: روهي محمد صدیق ، د ځېړنې لارښود، دویم چاپ، د محمد یوسف عمران او هدایت الله حافظ په اهتمام، د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، کابل، ۱۳۸۵ ل کال، ۸۷ مخ.

۳: روهي محمد صدیق ، ادبي څېړنې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۶ ل کال، ۱۶۶ مخ.

۴: هاشمي سیداصغر ، رنګونه مشالونه، د خوشحال په طب نامه کښې نوي طبي حقایق، مېهن خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۵ ل کال، ۲ـ ۳ مخونه.

۵: مومند عبدالحمید ، کلیات، په زیار د محمد اصف صمیم، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۸ ل کال، ۲۳۳ مخ.

۶: الفت ګل پاچا ، اد بي بحثونه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۷ ل کال، ۶۶ مخ.

۷: روهي محمد صدیق ، ادبي څېړنې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۶ ل کال، ۱۱۳ مخ.

۸: الفت ګل پاچا ، د الفت نثري کلیات(لومړی او دویم ټوک، ټولوونکي محمد اسماعیل یون او عبدالرحیم بختانی، دانش خپرندویه ټولنه، کابل،۱۳۸۹ ل، ۱۶۵ مخ.

۹: پورتنی اثر، ۱۶۸ مخ.

۱۰: کریمي یوسف ، روانشناسی اجتماعی، ارسباران، ایران، ۱۳۸۵ل، ۱۰۴ مخ.

۱۱: الفت ګل پاچا ، د الفت نثري کلیات(لومړی او دویم ټوک، ټولوونکي محمد اسماعیل یون او عبدالرحیم بختانی، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۸۹ ل، ۴۴ مخ.

۱۲: پورتنی اثر، ۲۵۸ مخ.